# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

## دهستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه : الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښــې ده ترڅو تاسو په تله کې تېری او تېګي ونه کړئ.
دتفسـير ځينې عالمان له دې نه داستنباط کوي چې د دنيا د هسـتۍ نظام پرعدل ولاړدی، کله چې عدل له منځه لاړ شي نو دهســـــتۍ نظام هم له منځه ځي.

د تاسيس کال ۱۳۸۴ هـ ش

چهارشنبه ۴ حوت ۱۴۰۰هـ ق — ۲۲ رجب المرجب ۱۴۴۳ هـ ق — ۲۳ فبروری ۲۰۲۲ م — شماره مسلسل(۰۳)


# قضائي نظام د بشريت يوه مهمه اړتيا ده

تاسو خبر یاست چې قضائي نظام د بشريت يوه مهمه او ضروري اړتيا ده، په ځانګړې توګه هغه قضائي عدالت چې په قرآن، حديث، قياس او اجماع متکي وي، د خلکو ترمنځ دعوې، شخړې او مشاجرې په اساسي ډول حلولای شي، نو ځکه د عدالت د تامين په غرض پيغمبر عليه الصلوة والسلام په خپله او بيا خلفاء راشدينو د قضائي نظام رهبري، تنظيم او مراقبت کاوه.

قضائي نظام يو خپلواک ارګان او په رأس کې يې ستره محکمه ده، او قاضی القضات د ټولو محاکمو لکه تميز، استيناف، ابتدائيه، نظامي، ځانګړې او د نشه يي توکو د مسايلو اړوند محاکمو د رهبرۍ تنظيم او نظارت کوي، د هغه موانعو او ننګونو چې د محاکمو د غوره فعاليت او عدالت د تامين مخه نيسۍ يا يې کمزوري کوي د مخنيوی لپاره پروګرامونه تنظيموي، دغه راز د محاکمو د استهدااتو جوابونه، تصويبات، مقررات، لوايح، تعليمات نامې او فرمانونه صادروي او په اداري برخه کې چې د قضائيه قوې امريت يې رأس کې دی پيشنهادات، تقررات، تاسيسات، تعميرات، ترجمات او د انسلاک قضائي قدرونو صلاحيتونه او نور لازم تدابير نيسۍ، د دې لپاره چې داسې يو منسجم، متحد عدالت چې حقوق، عزت، مال، ابرو او انسانيت په کې خوندي وي جوړ شي، د سترې محکمې لخوا د مشرتابه په هدايت د ټول هېواد هيئتي وشوه تر څو باديانته، صلاحيت لرونکي ملکي کسان د محاکمو لپاره وګمارل شي، تشکيلونه جوړ او کار پيل شو، ټول محاکم خپلو ديني دنيوي دندو او مسووليتونو ته متوجه دي، خو له بده مرغه د تېر شل کلن اشغال په دوره

پاتې په دويمه ص

# عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله
# د زابل د محاکمو له مسوولينو سره ځانګړې ناسته وکړه

د زابل ولايت د استيناف محکمې مسوولين وايي چې د افغانستان اسلامي امارت عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ هبة الله اخندزاده صاحب (حفظه الله) په ۱٤٤۳\۷\۱۹ نېټه د دغه ولايت د استيناف محکمې د رياست مقام، د ښاري محکمې د رياست مقام او د دواړو رياستونو د ديوانونو له غړو سره ځانګړې ناسته وکړه.

د استيناف محکمې د مسوولينو د معلوماتو له مخې، عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله په ياده ناسته کې د زابل ولايت د استيناف محکمې د رياست مقام، د ښاري محکمې د رياست مقام او د دواړو رياستونو د ديوانونو غړو ته هدايت وکړ چې د قضاء د منصب خيال وساتئ او دا يوه الهي فريضه وګڼئ، د کورونو دروازې د خلګو پرمخ بندې کړئ، په کورونو کې د خلګو دعوې مه اورئ او د محاکمو دروازې د خلکو پرمخ پرانيزئ، په محاکمو کې د خلکو دعوې واورئ او حقه ستونزو ته يې رسېدنه وکړئ.

دغه راز عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د زابل ولايت د محاکمو مسوولينو سره د ناستې پر مهال ويلي، د پرېکړو صادرولو پر مهال له فکر او ژور غور څخه کار واخلئ، د حقه فيصلو په صادرولو کې د هېچا تر فشار او اغيزې لاندې مه راځئ او د هر زورواکي، جابر او ملامت کس پر ضد شرعي فيصله صادروئ.

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله زياته کړه د شريعت په چوکاټ کې د ننه له هيچا مه ډارېږئ، زه ستاسې تر شا ولاړ يم؛ ځکه قاضي نايب السلطان بلل کيږي. په خپل منځ کې يو له بل سره همکار واوسئ، يو د بل ضد او مقابل مه جوړيږئ، هر يو دې خپل کار ته متوجه شي او خپل صلاحيت دې وپېژني.

د زابل ولايت د استيناف محکمې له عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی څخه د دغه ولايت د دښتو(سلطاني ځمکو) په اړه پوښتنه وکړه، عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی په ځواب کې وويل، دغه ډول موضوعات به د علماء کرامو د شورا د اهدافو په لايحه کې د يوې منظمې حللارې په ترڅ کې بيان او هغوی ته به وسپارل شي.

بايد وويل شي چې د زابل ولايت استيناف محکمې د ۱٤٤۳\۷\۱۱ نېټې په اونيزه غونډه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د يادو سپارښتنو په اړه تفصيلي خبرې وشوې.

د زابل ولايت د استيناف محکمې مسوولين

پاتې په درېيمه ص

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د سترې محکمې (۰۲) شمېره متحدالمال**

په ۱٤٤۳/٤/۲۷ نېټه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله په مشرۍ د سترې محکمې د رييس محترم شيخ صاحب او د هغه د همکارانو ترمنځ غونډه ترسره شوه، په دې ناسته کې په لاندې موضوعاتو خبرې او پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** که په تېره فاسده اداره کې د قضاء له خوا د زوج او زوجې ترمنځ تفريق شوی وي، اوس پخوانی زوج خپله زوجه غواړي او دې زوجې بل واده هم کړی وي او کله ــ کله اولاد هم ورڅخه لري نو په دې اړه محاکم بايد څه وکړي؟

**پرېکـړه:** دغه موضوع دې د ولس مشهورو علماء کرامو ته د استفتاء په شکل ولېږل شي او له تحقيق وروسته دې په عامو خلکو کې هم اشاعت ورکړل شي.

**دويمه موضوع:** د تېرې فاسدې ادارې پر مهال نهايي شوې فيصلې چې قانع جانب يې اوس اجراء غواړي او هغه فيصلې چې په تېره فاسده اداره کې يې ابتدائيه او مرافعه محکمې شوې وي، خو نهايي شوې نه وي په دې اړه بايد څه وشي؟

**پرېکړه:** دغه اوله موضوع کې که يې تطبيق نه وي شوی هغه دې د سترې محکمې د افتاء رياست ته ولېږل شي او هغوی دې تحقيق وکړي، که له شريعته خلاف وي نو بېرته دې د سره جريان ورکړل شي او که د شريعت مطابق وي نو ورته تطبيق دې شي. او په دويمه موضوع کې که يې ابتدائيه محکمه شوې وي نو مرافعه محکمه دې وګوري او که يې مرافعه محکمه شوې وي نو تميز يې دې وګوري د نورو فيصلو په شان معامله دې ورسره وکړي.

**دريـمه موضـوع:** کوم څوک چې پر فيصلو د تجديد نظر غوښتونکي وي بايد چاته مراجعه وکړي؟

**پرېکړه:** تجديد نظر او ټول هغه څه چې په قضاء پورې اړه لري د اسلامي امارت په مشرتابه (اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله) پورې تعلق لري بل څوک يې نشي کولای.

**څلورمـه موضـوع:** د شمال د ځمکو په يورتونو قومي دعوې دي چې محکمې يې نشي حل کولای، بايد څه ورسره وشي؟

**پرېکړه:** دغه موضوع دې د علماء کرامو د شورا تر جوړېدو وځنډول شي، کله چې شورا جوړه شوه هغوی به يې په اړه تحقيق وکړي په سوله ييزه طريقه به يې د حل لار پيداکړي.

**پنځمه موضوع:** د اسنادو موضوع چې په تعطيل کې وه اوس بايد څه ورسره وشي؟


**پرېکړه:** دغه هم بايد د علماء کرامو د شورا تر جوړېدو پورې وځنډول شي.

د سترې محکمې د عالي مقام د هدايت په اساس دې پورته ذکر شوو موضوعاتو په اړه د دغه متحدالمال په لېږلو سره ټولو تميزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته خبر ورکول کيږي چې خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

# د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو له رييس محترم مولوي عبدالبصير«مشعل» سره د ملي راډيو ټلويزيون ځانګړې مرکه

**پوښتنه: په اسلامي نظام کې قضائيه قوه کوم صلاحيتونه او مسووليت لري؟**

**ځواب:** د اسلامي امارت له خوا په قضايی برخه کې د محاکمو عالي اداره مرکزی اداره ده، چې د قضاء د ټولو چارو مسووليت همدې ادارې ته سپارل شوی دی، ستره محکمه کاملا خپلواکه ده هېڅ نظامي يا ملکی مسوول حق نه لري چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د محاکمو يا قضاتو په چارو کې مداخله وکړي. دغه راز ټول قاضي صاحبان مکلف دي چې د اسلامي نظام د يوې مستقلې قوې په حيث د قضاء درنښت، استقلال او شفافيت ته پام وکړي او دغه مقدسه دنده په ښه ډول ترسره کړي.



**پوښـتنه: ايـا افغانسـتان کـې د اسـلامي امارت تر واک ته رسېدو وروسته په ټول هېواد کې محاکمو فعاليت پيل کړی؟**

**ځـواب** : هـو الحمدللـه، کلـه چـې اسـلامي امارت حاکميت ترلاسه کړی د هېواد په ټولـو ولايتونو کې محاکمو فعاليت پيل کړی دی، او د هيـواد هـر وګـړی کـولای شي د خپلـو حقونو ترلاسوکولو په موخه اړوند محاکمو تـه مراجعه وکړي، موږ په دې اړه ټولو هيوادوالـو ته خبر هم ورکړی و، د قضائيه قوې د عـالي

پاتې په درېيمه ص

## ادامهٔ فرمان اميرالمؤمنين عمر بن خطاب خليفه دوم اسلام (رض) به ابو موسی اشعری (رض) در باب قضاء

اگر امروز در مورد قضيه يی حکمی صادر کرده يی و باز در مورد آن فکر نموده ای و به راه درست رهنمون شده ای مانع از آن نشود که به حق رجوع کنی، زيرا حق قديم است و حق را هيچ چيــزی باطل نمی کند. و بازگشت به حق بهتر از ماندن و درنگ کردن در باطل است.

مسلمانان همه در ادای شهادت بر همديگر عادل اند، مگر کسيکه به دادن شهادت دروغ تجربه شده باشد- و يا به حدی از حدود، دُرَّه زده شده و يا به نسبت قرابت و ولاء به مدعی مظنون باشد، همانا خداوند از چيزهای که پوشيده است بنده گانش را مورد بخشايش قرار داده و حدود را بالای شان پوشيده نگهميدارد - و آنها را به شبهه دور می کند، مگر آنکه به بينه ها و سوگند ها استوار باشد.

(نظام القضاء فی الشريعة الاسلاميه، تأليف دکتور عبدالکريم زيدان، چاپ بيروت ص (۷۵)

# د ستري محکمې د تفتيش رييس او ورسره مل پلاوي د ننګرهار استيناف محکمې ته د بررسۍ په موخه سفر وکړ

د ستري محکمې د تفتيش رييس محترم مفتي محمد ابراهيم جان او ورسره مل پلاوي د پنجشنبې په ورځ (۱٤٤٣/۷/۱) نېټه د ننګرهار ولايت استيناف محکمې ته د بررسۍ په موخه سفر وکړ.

د ستري محکمې د تفتيش رييس محترم مفتي محمد ابراهيم جان او ورسره مل پلاوي د ياد سفر پر مهال د استيناف محکمې فعاليتونه وليدل او هغه د محاکمو لپاره يې چې د قضاتو له کمبود سره مخ وو له يو شمېر ديني عالمانو ازموينه واخيسته او ژمنه يې وکړه چې ان شاءالله ډېر ژر به په يادو محاکمو کې د قضاتو د کمبود مسئله حل کړي.

د يادونې وړ ده چې د ننګرهار ولايت استيناف محکمه د ښاري محکمې په شمول د ټولو ديوانونو له رييسانو سره هره چهارشنبې اداري ناسته کوي، په ياده ناسته کې د هرې اونۍ پر مهال رامنځته شوو ستونزو ته حل لارې پيداکيږي.

# د خوست او پکتيکا ولايتونو قضاتو لپاره ځانګړی سيمينار جوړ شو

په خوست ولايت کې د خوست او پکتيکا ولايتونو د استيناف، ښاري او ځينو ولسواليو محاکمو شاوخوا ۱۲۰ قاضيانو لپاره د قضائي زده کړو ځانګړی درې ورځينی سيمينار ترسره شو.

په دغه سيمينار کې چې د افغانستان د اسلامي امارت د ستري محکمې د قضائي تعليماتو رياست مشرانو او قضاتو ګډون کړی و، د قضاء پر اهميت، د افغانستان پر قضائي نظام، د هغې پر اساساتو، تاريخچې او د يوې دوسيې په اجزاوو او پروسجر مفصل بحثونه او خبرې وشوې.

د خوست د استيناف محکمې رييس مولوي عبدالکريم حقاني وويل چې د خوست او پکتيکا ولايتونو د محاکمو قضاتو لپاره دغه اړين درې ورځينی سمينار درې مهمې برخې لرلې، چې لومړۍ برخه يې تدريسي، دويمه يې تيوريکي يا نظرياتي او درېيمه يې عملي يا تمريناتي برخه وه، چې قضاتو عملاً د قضائي چارو د پروسجر او اجرااتو په تړاو د لارښوود استادانو تر نظارت لاندې عملي ترسره کړې.

ده زياته کړه چې موږ د ستري محکمې له مقام څخه هيله کوو چې د قضاتو د ظرفيت لوړونې لپاره دې دغه ډول روزنيزو پروګرامونو لړۍ ته دوام ورکړي، تر څو د افغانستان د قضائي نظام په اجرااتو کې بهتري او کره توب رامنځته شي.

د ستري محکمې د قضايي تعليماتو رياست غړی مولوي محمد انور مدثر وويل چې موږ په دغه درې ورځيني قضائي سيمينار کې په ټولنيز ډول په ۲۷ قضايي موضوعاتو بحث وکړ، چې تر ډېره يې د محاکمو په اداري او قضائي اجرااتو پورې اړه لرله.

د خوست ولايت علماوو د سمينار څخه د فارغېدونکو قضاتو څخه وغوښتل چې کوښښ وکړئ، تر نهايي کچې مو اجراات بې پرې او د شريعت پر اصولو ولاړ وي، د قضاء استقلاليت مو ساتلی وي او د اجرااتو يوازينی معيار مو عدالت وګرځوئ.

د يادونې وړ ده چې د ننګرهار ولايت وروسته د ستري محکمې لخوا د قضاتو لپاره په خوست ولايت کې دا دويم سيمينار دی چې د قضائي ښوونو په مورد جوړېږي.

# تدوير جلسۀ هماهنگی در محکمه استيناف ولايت بادغيس

مسؤولان محکمۀ استيناف ولايت بادغيس می‌گويند که تحت رياست محترم مولوی عبدالخالق (محمدی) رئيس عمومی محکمۀ ذکرشده با مسؤولان ذيربط اين ولايت جلسۀ هماهنگی برگزار شد.

به گفتۀ مسؤولان محکمۀ استيناف ولايت بادغيس، در اين جلسه که به تاريخ ۱۴۰۰/۱۱/۱۲ برگزار شد، محترم مولوی حبيب الله رئيس محکمه شهری، محترم مولوی شراف الدين رئيس ديوان جزاء استيناف، محترم مولوی عبدالحميد رئيس ديوان امنيت عامه، محترم مولوی محمدطاهر رئيس ديوان مدنی و حقوق عامه استيناف، محترم مفتی محمد حسين (محمدی) رئيس ديوان جزاء رياست محکمه شهری، محترم مولوی شير محمد رئيس ديوان امنيت عامه رياست محکمه شهری، محترم مولوی عبدالناصر رئيس ديوان مدنی و حقوق عامه رياست محکمه شهری، محترم مولوی غلام محمد (محمدی) رئيس څارنوالی استيناف و محترم مولوی عبدالرازق رئيس عدليه حضور داشته اند.

منبع اظهار داشته است که در اين جلسه که در دفتر رياست څارنوالی بادغيس داير گرديد روی مسائل دوسيه‌های جزائی و حقوقی که بايد از مراجع مربوطه آن طی مراحل شود و همچنين ديگر مشکلات مراجعين بحث و گفتگو صورت گرفت.

مسؤولان محکمۀ استيناف ولايت بادغيس افزوده اندکه پس از تبادل نظريات اعضای جلسه به خاطر رسيده‌گی به قضايای مردم به مراجع مربوطه هدايات لازم داده شد.

# د پکتيا ولايت د استيناف محکمې رييس د زندانيانو د ستونزو د حل په موخه له جوړ شوي پلاوي سره وکتل

د پکتيا د استيناف محکمې مسوولين وايي چې د ۱٤٤٣ هـ ق کال د اوومې مياشتې په دويمه نېټه د دې محکمې رييس مفتي عبيدالله (خالد) د ياد ولايت له هغه ګډ پلاوي سره ليدنه وکړه چې د اميرالمؤمنين د فرمان په اساس د بنديانو د ستونزو د حل لپاره ګمارل شوی دی.

په دې ليدنه کې د پکتيا ولايت د استيناف محکمې رييس د ياد پلاوي سره د زندانيانو په تړاو هر اړخيزې خبرې وکړې او د بنديانو د ستونزو د حل په برخه کې يې د پلاوي غړو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

مفتي عبيدالله (خالد) وويل، د عالقيدر اميرالمؤمنين د فرمان په اساس دې ژر تر ژره د بنديانو ستونزې واورېدل شي، څو بې ګناه خلک په محبس کې پاتې نه شي او مجرمينو ته بايد د خپلو اعمالو سزا ورکړل شي.

د يادونې وړ ده چې د پکتيا ولايت د مقام مرستيال، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر رييس، د ښوونې او روزنې رييس او د مرکز ګرديز ښاري ابتدائيه محکمې رييس هم په ياده ناسته کې ګډون درلود.

# گزارش جلسۀ روسای دواوين و رسيده گی به استهدااات محاکم ولايت بغلان

به تاريخ ۱٤٤٣/۷/۸ تحت رياست مولوی معين الدين «عمری» رئيس محکمۀ استيناف ولايت بغلان به اشتراک روسای دواوين سه گانۀ استيناف، رئيس محکمۀ شهری و آمر ثبت اسناد وثايق اولين جلسه کميتۀ رسيده‌گی به استهداآات محاکم ولايت بغلان درمقر رياست محکمۀ استيناف برگزارگرديد.

ابتداء مصوبۀ تشخيص صلاحيت کاری دواوين وطرز رسيده‌گی به موضوعات محوله توسط رئيس محکمۀ استيناف به اعضای جلسه طور رهنمودی قرائت و پيرامون آن توضيحات ارايه گرديد، متعاقباً طرزالعمل تعليماتنامه تحرير وثايق وتعليمات نامه اشباه وثايق به طور ماده وار توسط مولوی ضياء الرحمن فاروقی رئيس ديوان مدنی و حقوق عامه قرائت و روی هريک ازمواد آن بحث و تبادل نظرصورت گرفت.

بعداً مطابق آجندا روی چند مورد استهداآت که مربوط آمريت ثبت اسناد وثايق و بعضاً مربوط مراجعين بوده مورد بحث و مداقه قرارگرفت، ازجمله روی دو مورد مربوط اشباه وثايق طرزالعمل و قواعد مربوطه ابراز نظر صورت گرفته و به مرجع مربوط جهت اجراآت مقتضی هدايت داده شد. دومورد ديگرکه ايجاب تحقيقات مزيد را توسط اعضای کميته مينمود به جلسات بعدی موکول گرديد.

# جلسۀ هماهنگی ارگان‌های دولتی ولايت کندز برگزار شد

به تاريخ ۱٤٤٣/۷/۷ محترم عبدالرحمن مفتی ديوان مدنی به نماينده‌گی رياست محکمۀ استيناف ولايت کندز درجلسه هماهنگی ادارات دولتی که از جانب مقام ولايت کندز در مقر آن ولايت تدوير گرديد اشتراک نموده وبه نوبه شان جلسۀ هماهنگی را در زدودن مشکلات وتسريع امورات ادارات دولتی بسا موثر تلقی نموده وهمکاری همه جانبۀ شان را در تأمين عدالت وخدمت به مردم جامعه رنجديده اين ولايت اعلام نمود.

# د ا.ا.ا د ستري محکمې له لوري دننګرهار ولايت د محاکمو اړوند قضاتو ته قضائي سيمينار جوړ شو

د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې مسوولين وايي چې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې له لخوا د دغه ولايت د استيناف محکمې اړوند ديوانونو، د ښاري محکمې او د ولسواليو د ابتدائيه محاکمو شاوخوا (۹۰) قضاتو ته د قضائي عالي سيمينار درې ورځنی کنفرانس پيل شو.

په دغه درې ورځنی عالي سيمينار کې چې تېره سه شنبې د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې د غونډو په تالار کې پيل شو د ستري محکمې له لوري راغلي پلاوي او قضاتو ګډون کړي درلود.

د ياد سيمينار د پيل پر مهال د ننګرهار د استيناف محکمې رييس شيخ الحديث محمدګلاب (فاروقي) د ستري محکمې له مقام او د سيمينار له ګډونوالو څخه مننه وکړه او دغه سيمينار يې د قضاتو د ظرفيت لوړونې برخه کې ګټور وباله او د ورته سيمينارنو په ترسره کولو يې ټينګار وکړ.

وروسته د ستري محکمې د قضايي تعليماتو رييس محترم مفتي محمد طاهر او د ياد رياست غړی مفتي محمد انور(مدثر) او نورو همکارانو له خوا درې ورځنی سيمينار ترسره شو.

د ستري محکمې څخه راغلي پلاوي په دغه سيمينار کې قضاتو ته د قضاء اداري او پرېکړو د ليکلو ټولې عملي او نظري طريقې واضح کړې او د ننګرهار قضاتو ته يې د قضاء په برخه کې پوره وضاحت او معلومات ورکړل.

د دغه سيمينار په وروستيو کې د ننګرهار ولايت مرستيال محترم شيخ نيازمحمد (وهاج) او د دغه ولايت امنيه قوماندان شيخ ندامحمد (نديم) هم ګډون کړی وه.

د ننګرهار ولايت مرستيال او امنيه قوماندان د قضاتو د پريکړو پر تطبيق او عملي کولو کې قوي ژمنه وکړه او ځانونه يې په دې مکلف وبلل چې د محکمې ملاتړ به کوي.

ياد سيمينار د ننګرهار د استيناف محکمې د رييس شيخ الحديث محمد ګلاب (فاروقی) په دعا پای ته ورسېد.

# قضائي نظام د بشريت...

کې نظامي، فکري، تبليغاتي او کلتوري جګړو زموږ د هيواد ټول اساسي قدرونه او اقتصادي وضعيت برهم کړی، او ډېرې ناخوالې يې شاته پرېښې، بيا ځينې يو طرفه رسنۍ له حقيقت ليرې ناسم تبليغات کوي، دغه کار هم خپله رسنۍ بدناموي، د ژورناليزم حقيقت او اصول تخريبوي او هم هغه هېوادونه چې د بشريت دعوا لري زموږ د مظلوم ملت د نور پايماليدو په غرض نړيوال اصول تر پښو لاندې کوي، که زموږ د هېواد او ملت حق اداء کړل شي او زموږ څخه بې بنسټه تعذيبات ختم شي نو زموږ د اسلام دين چې اسلامي امارت ورته پوره ژمن دی د ټول بشريت د حقونو، عزت، مال او نفس ضامن او داسې معجزانه اصول لري چې د ټولو پرمختګونو تضمين ورکوي او موږ ملت ته داډ ورکړی چې اسلامي امارت ورته ژمن دی.

# جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ استیناف ولایت نورستان برگزار شد

به تاریخ ۹ رجب المرجب سال ۱۴۴۳ هـ ق تحت ریاست مفتی عبیدالله (سلیم) رئیس محکمهٔ استیناف در صالون این محکمه جلسهٔ اداری محکمه برگزار شد.

در این جلسه مولوی گل الرحمن رئیس دیوان جزا استیناف، مولوی عبدالحمید مفتی دیوان جزاء استیناف، مولوی امین الرحمن محرردیوان جزا استیناف، مولوی فضل الحق مفتی دیوان مدنی استیناف، مولوی عبدالهادی محرر دیوان مدنی استیناف، مولوی محمد یحی رئیس دیوان امنیت عامه استیناف، مولوی محب الرحمن مفتی دیوان امنیت عامه استیناف، مولوی زاهد الله محرر ریاست دفتر وثایق ومخزن ، مولوی غلام الله مفتی دیوان جزا شهری، مولوی نقیب الله محرر دیوان جزا شهری، مولوی محمد اسلام رئیس دیوان مدنی شهری، مولوی احسان الله محرر دیوان مدنی شهری، مفتی نثارالله رئیس دیوان امنیت عامه شهری، مولوی محمد صیام مفتی دیوان امنیت عامه شهری، محمد شاکر مفتی دیوان نظامی شهری و مامورین اداری و پرسونل خدماتی محکمه استیناف و شهری اشتراک ورزیده بوده اند.

این جلسه به مناسبت اختتام سیمینار ۳۳روزه به اشتراک قضات فوق جهت اگاهی از طرز اجراآت اداری و حقوقی محاکم امارت اسلامی افغانستان حسب لزوم دید این ریاست برگزار گردیده بود.

طی این سیمینار اصولنامهٔ اداری و حقوقی محاکم از اول تا آخر از طرف رئیس محکمهٔ استیناف تشریح شد.

همچنان در این سیمینار در مورد برخی موضوعات دیگر از جمله موضوعات گزارش دهی ربعوار، جمع آوری عواید امارت اسلامی، طرز اجراآت سیستم وارده وصادره وغیره معلومات ارائیه شد.

رئیس محکمهٔ مرافعه نورستان از حوصله مندی قضات محترم که در سیمینار فوق الذکر اشتراک کرده بودند ابراز تشکری کرد.

در این جلسه رئیس محکمهٔ استیناف در رابطه به پابند ماندن به حاضری تأکید کرد، تا همه کارمندان اداری و خدماتی محاکم در اوقات معیین به وظایف شان حاضر باشند.

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د زابل د محاکمو له مسوولینو...

وايي چې په یاده اداري ناسته کې چې د قرانکریم د مبارکو اياتونو پر تلاوت پیل شوه، تر تلاوت وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله یاد هدایات په مفصل ډول بیان او د یادو محاکمو له قضائي اوخدماتي تشکیل سره شریک شول.

د زابل ولایت د محاکمو د یادې اداري ناستې پر مهال د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د لارښوونو له بیانولو وروسته، د ناستې ګډونوالو ته دحل په اړه پوهاوی ورکړل شو او هغوی ته وویل شول چې د قضاء د لایحې د ۱۵مې مادې په اساس خصوصي دفترونه جوړ کړي او یو له بله جلا کړي، چې د اړتیا پر مهال ورته لاس رسی اسانه وي.

د غونډې په پای کې حاضرینو خوښي څرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د هدایاتو مطابق به خپلې چارې پرمخ وړي.

# له ملي راډیو تلویزیون سره د افغانستان اسلامي امارت ...

مقام په هدایت مو په دې اړه د رسمي ادرسونو له لارې یوه اعلامیه خپره کړې چې محاکمو خپل فعالیت پیل کړی دی او هیوادوال کولای شي اړوند محاکمو ته خپلې دوسيې او قضیې وړاندې کړي او خپل حقونه ته ترلاسه کړي.

**پوښتنه: له تېرو شپږو میاشتو راهیسې د قضائیه قوې او محاکمو مهمې لاسته راوړنې څه دي؟**

**ځواب**: له کله راهیسې چې د افغانستان اسلامی امارت قضائي قوې فعالیت پیل کړ، الحمدلله تر اوسه ډېرې لاسته راوړنې لري، د هیواد د ټولو محاکمو ترمنځ قوي همغږي رامنځته شوې ده، د فساد مخه نیول شوې، سلګونو دوسیو ته رسېدنه شوې، د محاکمو او خلکو ترمنځ موجوده واټن ختم شوی دی.

**پوښتنه: قضائیه قوه د ثبات او امنیت د ټینګښت برخه کې څه رول لري؟**

**ځواب** : قضائیه قوه د امنیت او ثبات د ټینګښت په برخه کې ستر او مهم رول لري، کوم هیواد کې چې قضائیه قوه خپلواکه وي، مکافات او مجازات موجود وي. که څوک فکر وکړي او په دې پوه شي چې که جرم وکړي د جرم سزا به ويني او پر جزا به محکوم کيږي، دا خپله د امنیت او ثبات د ټینګښت په برخه کې ستر مهم رول ده، یوه یادونه به وکړم چې څو ورځې مخکې ما له یوه تجار سره ناسته درلوده، هغوی ما ته وویل چې د تېر رژیم غټ مشکل دا و چې په ادارو کې فساد ډېر و، اداري خپلواکې نه وې، محاکم د زورواکو او مفسدینو تر اغېز لاندې وې، نو تجارانو او سرمایه دارو خلکو نه شو کولای په هیواد کې د ننه پانګونه وکړي او دلته خپل تجارتي کارونه پیل کړي، یو ستر لامل چې سوداګرو دلته پانګونه نه کوله دا هم و. خو الحمدلله اوس اسلامي امارت محاکم کاملا خپلواک دي، تجارانو او ټولو هیوادوالو ته داډ ورکوي چې ان شاءالله د دوی قضیو ته به په شفاف توګه رسېدنه کيږي.

**پوښتنه: له څه باندې شپږو میاشتو راهیسې هېواد کې اسلامي امارت واک ته رسېدلی دی په دې شپږو میاشتو کې کومې مهمې قضیې حل او فصل شوې دي؟**

**ځواب** : کله چې د افغانستان اسلامي امارت قضائیه قوې فعالیت پیل کړی ده، په سلګونو قضیې یې حل وفصل کړې دي، د بېلګې په ټوګه به ووایو چې له هغوی څخه یو د کندهار د عینو مېنې غټه قضیه ده، هغه قضیه نهایي کېدو ته نیږدې شوې ده. بله د غلام حیدرخان په نوم زموږ تاسو د یوه هیوادوال د ځمکې غصب دوسیه ده چې تقریبا له ۱۳۴۴ هـ ش کال راهیسې دې دوسیې ته رسیدنه نه وه شوې، اوس د اسلامي امارت په راتګ سره د قضائیه قوې تر فعالیت پلېدو وروسته په دې قضیه کار شوی او دا هم نهایي کېدو ته نېږدې شوې ده. دې ته ورته سلګونه نورې قضیې هم دي چې رسېدنه ورته شوې یا تر کار لاندې دي.

**پوښتنه: په تېر نظام کې پر قضائیه قوه د فساد ډېر تورونه و، پر قضائیه قوه د خلکو باور ډېر کم شوی و، او حتی بیخي له منځه تللی و، تاسو څه پلان لری چې پر قضائیه قوه د خلکو باور بېرته ترلاسه کړې، او څومره ډاډ ورکولای شی چې د قضایه قوې په وسیله به د اداري فساد ریښې له منځه یوسئ؟**

**ځواب** : هو، یقینا واضح خبره ده چې مخکې قضائیه قوه د زورواکو تر اغېز لاندې وه، نو د اسلامي امارت په راتګ سره الحمدلله ټولو هیوادوالو ته ډاډ ورکوو چې محاکم خپلواک دي، د هېچا او هېڅ زورواکي یا د هېڅ کوم نظامي یا ملکي چارواکي تر تاثیر لاندې نه شي راتلای، او نه څوک حق لري چې د محاکمو په چارو کې مداخله وکړي، او د خلکو قضیو ته په شفافه او خپلواک په توګه رسېدنه کېږي او هېڅ مشکل به نه وي ورته ان شاءالله، موږ پوره ډاډ ورکوو او له کله راهیسې چې محاکمو فعالیت پیل کړی دی هېڅوک هم شکایت نه لري.

**پوښتنه: اوس مهال د هېواد په محاکمو کې حقوقي او جنايي قضيې د کومو قوانيو پر اساس حل کېږي؟**

**ځواب**: دا واضح خبره ده چې افغانستان اسلامي هېواد دی، دلته د اسلامي شریعت د حاکمیت لپاره بې دریغه مالي او ځاني قرباني ورکړل شوې دي، نو معلومه خبره ده چې حتمن د محاکمو فیصلې د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې ترسره کېږي.

**پوښتنه: که کوم هېوادوال د محاکمو اړوند شکایت ولري، څنګه کولای شي دغه شکایت تر تاسو (سترې محکمې) ورسوي؟**

**ځواب**: د اسلامي امارت واک ته تر رسېدو وروسته چې کله قضائیه قوې فعالیت پیل کړی دی، ټولو هیوادوالو ته یې دا زمینه برابره کړې ده چې دوی کولای شي د هیواد له هرې سیمې، هرې ولسوالۍ او هر کلي څخه په هغه صورت کې چې هلته يې قضیه نه حل کېږي او ستونزه لري کولای شي خپله راشي سترې محکمې ته، خپله ستونزه او شکایت دلته راوړي، ستره محکمه کې چې کوم موجودې اړوند اداري دي د دوو ستونزو ته به رسېدنه کوي او اوري به یې، په دې اړه د هېوادوالو د رهنمايۍ او ستونزو د اورېدو لپاره موږ مخکې دوی ته له رسمي ادرسونو یوه شمېره اعالن کړې ده، مخکې به چا ډېرې وخت یو قاضي نه شو لیدلای، خو اوس کولای شي خپله سترې محکمې ته راشي او دوسيې د اړوند اداره له لارې له لوړو مقاماتو سره شریکې کړي.

**پوښتنه: د قضائیه قوې د پخوانیو کارمندانو برخلیک به څنګه وي، ایا تاسو د قضائیه قوې پخواني کارمندان دندو ته راغوښتي دي؟**

**ځواب** : هو! ټول کارمندان چې دلته په افغانستان کې موجود دي دندو ته راغلي دي او خپلې دندې ترسره کوي، هېڅ مشکل او ستونزه هم نشته، د دوی د معاشونو ستونزه هم حل شوې ده. ټولو ته معاشات هم ورکړل شوي دي او نن سبا یې پاتې معاشونه هم ورکول کېږي.

**مشعل صاحب په پای کې هیوادوالو ته څه پیغام لری؟**

**ځواب**: ټولو هیوادوالو ته ډاډ ورکوو چې د افغانستان اسلامي امارت قضایه قوه خپلواکه ده، له هېچا وېره مه لرئ، هېڅ نظامي یا ملکي مسوول نه شي کولای چې د محاکمو په چارو کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول مداخله وکړي.

دلته به ټولې فیصلې د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې کیږي، خپلواکې به وي، ستاسو قضیو ته به د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې په خپلواک او شفاف ډول رسېدنه کېږي.

له هېچا نه وېره مه لرئ، تاسو کولای شئ په هغه صورت کې چې په ولسوالۍ یا ولایت کې ستونزه ولری مستقیما سترې محکمې ته مراجعه وکړی، او د سترې محکمې له لوړپوړو چارواکو سره د اړوند ادارو له لارې شریک کړی.

# زابل ولایت کې د محاکمو د همغږۍ ناسته ترسره شوه

د زابل ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې په ۱۴۴۳/۷/۱۴ نېټه د یاد ولایت د استیناف محکمې په ریاست کې د استیناف او ښاري محکمې اړوند د ټولو غړو په شتون کې د همغږۍ او هماهنګۍ اداري غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه د قرانکریم د مبارکو ایاتونو پر تلاوت پیل شوه، وروسته د ناستې ګډونوالو په ځینو مهمو موضوعاتو خبرې وکړې.

کومه اعلامیه چې دسترې محکمې له عالي مقام څخه دعوائدو دراټولیدو او اجراء په موخه خپره شوې دکوم طرزالعمل له مخې دولایت اړوند محاکمو کې په ښه توګه پلي کړو چې دعریضې له ثبت څخه بیادفیصلې ترنهایي کیدو ټول مراحل پکې شامل دي شوي اعلامیه چې د عریضې دعریضې له ثبت څخه د فیصلې تر وروستي کېدو پورې ټول مراحل پکې شامل دي، د ولایت په اړوند محاکمو کې په ښه ډول پلي کړو.

دغه راز په ناسته کې یادونه وشوه چې د دیوانونو او محاکمو ټول رییسان باید د خلکو شکایتونو او خبرو ته پوره غوږ ونیسي، په غور یې واوري او د دوی حقه ستونزو ته د اصولو له مخې رسېدنه وکړي.

په ورته وخت کې پر دې ټینګار وشو چې د هرې اداري او دیوان کارکوونکي باید له یو بل سره همکار او همغږي شي، یو له بل سره مرسته وکړي ترڅو دغه الهي فریضه او احکام په ښه ډول پر خلکو تطبیق کړي.

د ناستې ګډونوالو په دې اړه چې څه ډول کولای شو د سترې محکمې د عالي مقام څخه د عایداتو د راټولو او اجراء په موخه هغه خپره د ناستې په پای کې حاضرینو خوښي څرګنده کړه او وویل، دغه ډول غونډې د شته ستونزو د هوارې لپاره خورا مثبتې او اغېزناکې دي.

# د مقتول کورنۍ خپل قاتل...

وخت مرګ ژوبله او زیانونه اوړي، تاسې د یادو ستونزو د حل لپاره څه پلان لری؟ وویل، بلې! موږ پکتیا کې له ټولو قومي او نورو ستونزو خبر یو او د یادو ستونزو د حل له پاره منظم پلان لرو، او ان شاءالله نږدې وخت کې به یادې ستونزې د یوه ځانګړي پلاوي لخوا وڅېړل شي او د حل لار به ورته پیدا کړل شي.

د ناستې په پای کې د مقتول او قاتل د کورنیو غړو «محمد الرحمن او نورمحمد» چې دواړه د سیدکرم ولسوالۍ د چینو د کلي اوسیدونکي دي، د افغانستان اسلامي امارت د پکتیا ولایت د استیناف محکمې له رییس او قاضیانو زیاته مننه وکړه چې د دوی قضیې ته یې په ډېره ښه توګه رسېدنه وکړه.

د قضیې دواړو لوریو د ناستې د ګډونوالو په موجودیت کې یو بل ته غاړه ورکړه او خپل منځۍ دښمنۍ ته یې د پای ټکی کېښود

.د یادونې وړ ده چې په دې ناسته کې د پکتیا پر مرستیال والي سربېره د امنیه قوماندانۍ مرستیال مولوي اسحاق، د امنیت امر قاري کرامت، د اطلاعاتو او فرهنګ رییس خالقیار «احمدزي» او ګڼ شمېر نورو مشرانو او ځوانانو برخه اخیستې وه.

# رئیس محکمهٔ استیناف بادغیس با برخی مسؤولان ولایتی ملاقات کرد

مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس می‌گویند که محترم مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی این محکمه با محترم مولوی حبیب الله رئیس محکمه شهری، محترم آخندزاده محب الله (اسد) معاون ولایت و محترم مولوی غیاث الدین (صبور) رئیس امربالمعروف و نهی از منکر ملاقات کرد.

به گفته مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس در این ملاقات که به تاریخ ۱۴۰۰/۱۱/۱۳ (روز چهارشنبه) صورت گرفت در مورد تطبیق مواد (۲۹) فرمان نمبر (۱۷۵) عالیقدر محترم امرالمؤمنین بحث و گفتگو شد و هیئت نظارت و بررسی به کار خویش عملاً آغاز نموده‌اند.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالبصیر(مشعل)
اديتور: جواد الله (جاهد)
ډيزاين : وحيدالله (اسديار)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه
څرګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځله چاپيږي

# متحدالمال شماره ۱۰۸۱ مورخ ۱۲/۷/ ۱۴۴۳
# نظارت از عواید ریاست عمومی مالی و اداری ستره محکمه

مکتوب شماره (۲۵۱بر۱۵۳) مورخ ۱۴۴۳/۷/٤ ریاست دفتر آمریت محترم عمومی اداری قوه قضائیه که انضمام آن مصوبهٔ شماره (۲۱) مورخ۱۴۴۳/٦/۲۸هـ ق کابینه ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان مواصلت ورزیده است.

دربند دوم جزء اول آن چنین هدایت فرموده اند: ( ټول مالیاتي او غیر مالیاتي عواید به د بانک له لاری را ټولوي).

بناءً هدایت مصوبهٔ نمبر فوق نقلاً به شما نگاشته شد، و همچنان اکیداً به تمام رؤسای محترم محاکم استیناف و رؤسای مربوط آن هدایت داده می‌شود تا قیمت اسناد بهادار و سایر پول‌های محاکم که نزد محررین و مسئوولین باقی مانده باشد طور عاجل از طریق بانک به حساب بانکی محاکم مربوطهٔ خویش تحویل خزانه دولت نموده، راپور(م۲۹) ماهوار آن را بعد از تائید مستوفیت غرض اجراآت بعدی گسیل فرموده، تا اجراآت که در نظراست مرعی گردد .

# د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رییس
# د استیناف محاکمو له مسوولینو سره انلاین ناسته وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۳ هـ ق کال د اوومې مياشتې په اتمه نېټه د ولايتونو له استيناف محاکمو سره انلاين غونډه ترسره کړه.

په ياده ناسته کې د دارالانشاء عمومي رياست محترم رييس مفتي عبدالرشيد «سعيد» په محاکمو کې د ورځنيو چارو پر وخت ترسره کېدو او د ايميل له لارې د مکتوبونو او متحدالمالونو د لېږد راليږد په اړه ټولو مرافعه محاکمو ته لازمي سپارښتنې وکړې.

محترم مفتي عبدالرشيد «سعيد» وويل: ((د نننۍ ناستې اصلي موخه داده چې موږ څنګه کولای شو د افغانستان درديدلي ولس ته پر وخت غوره خدمات وړاندې کړو، د دوی موضوعاتو ته پر وخت رسېدنه وکړو، خپل دنيوي او اخروي مسووليت ترسره کړو او د هېواد د ټولو محاکمو په ځانګړې توګه مرافعه محاکمو سره د کارونو د لا ښه تنظيم په برخه کې له يو بل سره همکار و اوسو.))

دغه راز د يادې ناستې په دويمه برخه کې محترم عبدالولي «عزيز» د ايميل په اړه ښوونيز سيمينار وړاندې کړ او په دې برخه کې يې د غونډې د ګډونوالو د ستونزو تر اورېدو وروسته، د حللارو په اړه لازم تصاميم ونيول.

دغه غونډه د سترې محکمې د دارالانشاء د عمومي رييس محترم مفتي عبدالرشيد «سعيد» په اختتاميه وينا پای ته ورسېده.

# د افغانستان اسلامي امارت د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د لزوم دید له مخې
# د هېواد د جنوب لويديځ زون په محاکمو کې لاندې کسان تازه په دندو ګومارل شوي دي

**کندهار ولايت:**

۱.محترم الحاج مولوي عبدالرازق د کښته شاوليکوټ محکمې د قاضي په توګه.
۲.محترم مولوي موسی کليم د کښته شاوليکوټ محکمې د مفتي په توګه.
۳.محترم مولوي سيدمحمد د کښته شاوليکوټ محکمې د محرر په توګه.
٤.محترم مولوي عبدالعزيز د غورک ولسوالۍ د محکمې د قاضي په توګه.
٥.محترم مولوي جمه‌ګل د غورک ولسوالۍ د محکمې د مفتي په توګه.
٦.محترم مولوي محمدصادق د غورک ولسوالۍ د محکمې د محرر په توګه.
۷.محترم مولوي بشيراحمد د بولدک ولسوالۍ د محکمې د مفتي په توګه.

**زابل ولايت:**

۱.محترم مولوي نوراحمد د زابل ولايت د مرافعه محکمې د جزاء ديوان د محرر په توګه.
۲.محترم مولوي احسان الله د زابل ولايت د مرافعه محکمې د مدني ديوان د محرر په توګه.
۳.محترم مولوي غلام محمد د زابل ولايت د ښاري محکمې د مفتي په توګه.
٤.محترم مولوي نقيب الله د زابل ولايت د ښاري محکمې د ديوان مدني د محرر په توګه.
٥.محترم مولوي محمد يونس د زابل ولايت د مرافعه محکمې د مخزن د مسوول په توګه.
٦.محترم مولوي حضرت محمد د شينکۍ ولسوالۍ د محکمې د قاضي په توګه.
۷.محترم مولوي عبدالحی اخندزاده د شينکۍ ولسوالۍ د محکمې د مفتي په توګه.
۸.محترم مولوي احمدالله د شينکۍ ولسوالۍ د محکمې د محرر په توګه.
۹.محترم مفتي عزيزالله اخندزاده د شهرصفا ولسوالۍ د محکمې د قاضي په توګه.
۱۰.محترم مولوي عبدالقادر د شهر صفا ولسوالۍ د محکمې د مفتي په توګه.
۱۱.محترم مولوي عبدالبصير د شهر صفا ولسوالۍ د محکمې د محرر په توګه.
۱۲.محترم مفتي عبدالولي د دايچوپان ولسوالۍ د مفتي په توګه.

# د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې رييس د دغه ولايت له مسوولينو سره ناسته وکړه

د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې رييس د دغه ولايت له اړوند مسوولينو سره د بنديانو په اړه د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان او د رياست الوزراء د طرزالعمل په اړه ناسته وکړه.

په دې ناسته کې چې په ولايت مقام کې ترسره شوه د استياف محکمې رييس، د ښاري محکمې رييس، د ولايت سرپرست او مرستيال، د پوهنې رييس، د امربالمعروف رييس، د استخباراتو استازو او د امنيه قوماندانۍ استازي ګډون درلود.

د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې د مسوولينو د معلوماتو له مخې په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې د شنبې په ورځ ( ۱۴٤۳/۷/۳) نېټه به د زندانيانو د حال ارزونې په موخه د ننګرهار له عمومي زندان او د ولسواليو له زندانونو ليدنه ترسره کړي او په هکله به يې د ياد فرمان د مادو مطابق اجراات ترسره کړي.

# تدوير سيمينار قضائی واداری محاکم استيناف ولايت کندز

به تاريخ۱۱/۷/۱٤٤۳ به ابتکارو حسب هدايت محترم مولوی نورمحمد نوری رئيس عمومی محکمهٔ استيناف ولايت کندز پيرامون جمع آوری محصول وثايق و فيصله جات محاکم و وضاحت قانون محصول سيمينار دايرگرديد .

درين سيمينارکه به اشتراک مسؤلين قضائی و اداری محاکم ولسوالی های ۹ گانه ولايت کندز در دفتر کاری رئيس محکمه استيناف اشتراک ورزيده بودند، ابتدا جلسه بنام خداوند عادل وتوانا آغاز سپس روی قانون محصول و قيمت وثايق و محصول فيصله ها بحث و تبادل نظرصورت گرفت همچنان تعرفه ها و کود های تصنيف و دفتر ثبت رسيدات تعرفه ها ازجانب مديرعمومی مالی و حسابی محکمهٔ استيناف توزيع گرديد تا منبعد محاکم مربوط استيناف طبق قانون محصول اجراآت شان را عيار نمايند.

# تدوير جلسهٔ هماهنگی در محکمهٔ استيناف ولايت بادغيس

مسؤولان محکمهٔ استيناف ولايت بادغيس می‌گويند که تحت رياست محترم مولوی عبدالخالق (محمدی) رئيس عمومی محکمهٔ ذکرشده با مسؤولان ذيربط اين ولايت جلسهٔ هماهنگی راه اندازی شد.

به گفتهٔ مسؤولان محکمهٔ استيناف ولايت بادغيس، در اين جلسه که به تاريخ ۱۴۰۰/۱۱/۱۲ برگزار شد، محترم مولوی حبيب الله رئيس محکمه شهری، محترم مولوی شراف الدين رئيس ديوان جزاء استيناف، محترم مولوی عبدالحميد رئيس ديوان امنيت عامه، محترم مولوی محمدطاهر رئيس ديوان مدنی و حقوق عامه استيناف، محترم مفتی محمد حسين (محمدی) رئيس ديوان جزاء رياست محکمه شهری، محترم مولوی شير محمد رئيس ديوان امنيت عامه رياست محکمه شهری، محترم مولوی عبدالناصر رئيس ديوان مدنی و حقوق عامه رياست محکمه شهری، محترم مولوی غلام محمد (محمدی) رئيس څارنوالی استيناف و محترم مولوی عبدالرازق (مرزوقی) رئيس عدليه حضور داشته اند.

منبع اظهار داشته است که در اين جلسه که در دفتر رياست څارنوالی بادغيس داير گرديد روی مسائل دوسيه‌های جزائی و حقوقی که بايد از مراجع مربوطه آن طی مراحل شود و همچنين ديگر مشکلات مراجعين بحث و گفتگو صورت گرفت.

مسؤولان محکمهٔ استيناف ولايت بادغيس افزوده اندکه پس از تبادل نظريات اعضای جلسه به خاطر رسيده‌گی به قضايای مردم به مراجع مربوطه هدايات لازم داده شد.

# د مقتول کورنۍ خپل قاتل ته بښنه وکړه!

د پکتيا ولايت د استيناف محکمې د ناستو په تالار کې د يوې کورنۍ لخوا د خپل قاتل د بخښنې په پار غونډه جوړه شوه.

ياده ناسته کې چې د قرانکريم پر تلاوت پيل شوه د پکتيا ولايت مرستيال والي شيخ عزيزالرحمن منصور وويل، بښنه په اسلام کې ځانګړې ځای لري، ډېر کلونه افغانانو يو بل ووژل، خو هيڅ ګټه يې ونه کړه، راځئ نور له بښنې خوند واخلو، کوم خوند چې په بښنه کې دی په غچ اخيستو کې نشته.

مرستيال والي زياته کړه، افغانستان کې تر ډېرو قربانيو وروسته اسلامي نظام حاکم شوی دی، چې د الله (ج) په قانون به عمل کوي، اوسنی نظام د الله تعالی لوی نعمت دی او په نړۍ کې هيڅ ساری نه لري.

هغه وويل، الحمدلله اوس هيواد کې ارامي ده، له ختيځه تر لويديځ او له سويله تر شماله په ټول هېواد کې هيڅ ستونزه نه ليدل کېږي، ټول هېوادوال له ډار پرته د هيواد هرې برخې ته سفر کولای شي.

نوموړي زياته کړه، موږ او تاسې په هره برخه کې استعدادونه لرو اوکولای شو هرې ستونزې ته په ډېره اسانۍ حللاره پيدا کړو، لکه نننۍ د کلونو د قتل موضوع چې د ورورګلوۍ په څومره ښه فضاء کې حل او فصل شوه.

ورپسې د ښار جوړونې رييس مفتي عبدالله، د امنيت امر قاري محمد اسلم کرامت او د پکتيا استيناف محکمې رييس مفتي عبيدالله (خالد) خبرې وکړې، مفتي عبيدالله خالد وويل چې ياده قضيه اته کلنه وه، چې موږ او قومي مشرانو په ډېر لنډ وخت کې حل کړه، مقتول خپل قاتل ته چې د تره زوی يې و، بښنه وکړه.

د استيناف محکمې رييس مفتي عبيدالله وويل چې تر نن ورځې پورې مو ٦۰ ورته قضيې حل او فصل کړې او د کورنيو ترمنځ دښمني پای ته رسېدلې ده.

مفتي عبيدالله زياته کړه، زموږ اداره له هر ډول توپير پرته په ټولو برخو کې حق حقدار ته سپاري او هېڅوک په چا باندې د زور او زياتي حق نه لري.

هغه پر ټولو غږ وکړ او وويل، هر څوک چې له چا سره ظلم او زياتی کوي موږ ته دې مراجعه وکړي، څو يې حق ورته ورسول شي، نور بايد بې ګناه څوک ونه ځوروي او زياتی ورسره ونه شي.

مفتي عبيدالله خالد زياته کړه چې د پکتيا استيناف محکمې اړوند ټول ديوانونه فعال دي، پر دې سربېره د ولايت په کچه په ټولو ولسواليو کې موږ ابتدائيه محکمې فعالې کړې دي او خپلې چارې په عادي توګه ترسره کوي.

نوموړي يو ځل بيا پر ولس غږ وکړ چې زموږ ټولې پرېکړې شفافې او عادلانه دي، هر څوک کولای شي محاکمو ته بې له وېرې مراجعه وکړي.

د غونډې په جريان کې د پکتيا مرستيال والي شيخ عزيزالرحمن منصور دې پوښتنې ته په ځواب کې چې پکتيا ولايت کې ډېرې قومي ستونزې موجود دي، چې له امله يې يوې او بلې خوا ته وخت نا

پاتې په دريمه ص

میزان
دليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو اومطبوعاتو رياست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلېفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۹۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۹۳